# پښتو ټپه کښې د متل استعمال

## The Usage of Proverb in Pashto Literary Genre "Ṭappa"

ډاکټر شکیل احمد*
ډاکټر روح اللہ**

**Abstract**
Proverbs are called an integral part of any language which provide charm and appeal to that very language. Likewise, Pashto proverbs are an important part of Pashto Language since the evolution of this language. Pashto "Tappa" is called the oldest form of Pashto Folklore and it is mostly colored by Pashto proverbs. In this article I have tried to put light on the usage of Pashto proverbs in Pashto Tappa.

**Keywords:** *Tapa; Poetry; Proverb; Pashto Literature.*

د یوې ژبې او قام هغه ادب چې د خلقو په حافظه کښې موجود وي او سینه په سینه په خپل روایتي انداز کښې د یو نسل نه بل نسل ته منتقل کېږي، اولسي ادب بللے شي. دا قسمه ادب د اولس ګډه پنګه وي او د یوې معاشرې شریک میراث ګڼلے شي. د اولسي ادب ژبه ساده، سوچه، عالمګیره او فطري وي. ځکه په هر چا ښۀ لګي او په اسانه پرې پوهېږي. دا د یو اولس د ژوند ژواک ټول واقعیات او واردات په خپل ځان کښې سنبالوي. او د دوي د ژوند ترجماني کوي.

لکه د نورو ژړو ژبو د پښتو ژبې اولسي ادب هم ډېر غني دے. دغه اولسي ادب په مختلفو اصنافو مشتمل دے، چې پکښې هر یو صنف ځان ته یو امتیازي، منفرد او ځانګړے حېثیت او خصوصیت لري. خو ولې په دغه ټولو اصنافو کښې ټپه او متل د پښتو اولسي ادب دوه داسې مهم توکي دي چې تر اوسه ئې خپل اهمیت او حېثیت په خپل ځائے ساتلے دے.

مخکښې لۀ دې نه چې په پښتو ټپه کښې د متل په استعمال څۀ اووئیلے شي،

---

* لېکچرار، پښتو څانګه، پېښور پوهنتون
** پروفېسر، پښتو څانګه، پېښور پوهنتون

ضروري ګڼم چې اول د ټپې او متل لنډه پېژندګلو وشي چې د لوستونکیو په ذهن کښې د ټپې او متل په حقله یو تت شان انځور جوړ شي او بیا په ټپه کښې د متل د استعمال په حقله مثالونه ورکړے شي.

"ټپه د ژوند د حقائقو، غوښتنو، ضروریاتو، ارمانونو او د خپل چاپېرچل، د روایاتو، رواجونو، توهماتو، ملي دستورونو، عقائدو، غم ښادۍ، میني وررولۍ او خېر ښېګړې هغه ټول روایات ژوندي ساتي چې د پښتنو د معاشرتي ژوند سره ګنډلي پېرلي دي او د هغې ثقافتي اقدارو څرګندونه کوي چې د صدو راسې د دې اولس د نسلونو د ژوند سره تړلي او پېرلي راروان دي".[1]

د ټپې اثر دوامي او ابدي وي. دا د مختصر او غوره فکر د اظهار دپاره یوه مؤثره ذریعه ده. ټپه د تصنع نه پاکه وي. د دې ژبه سوچه او ساده وي او د پښتون اولس د عام وګړي د مزاج، ذهني سطحې او پوهې مطابق وي. دا صنف زیات تر د ښځو له خوا وئیلے کېږي. بله دا چې د ټپې د وېنا طرزونه هم جدا جدا دي. دا په بېلو بېلو علاقو کښې په بېلو بېلو اوازونو، آهنګونو او غاړو کښې وئیلے شي، چې د پښتو د دې مشهور اولسي صنف یو بل ځانګړے خصوصیت دے. غرض دا چې د خپل بې شمېره ځانګړي خصوصیاتو له کبله ټپه په پښتو اولسي ادب کښې د ټولو نه مقبول ترین او زړۀ راښکونکے صنف دے.

د پښتو د اولسي شاعرۍ دا صنف په مختلفو نامو بللے شي چې د وجې تسمیې په باره کښې ئې مختلفې خبرې کېږي. په بره پښتونخوا یعنې افغانستان کښې ورته لنډۍ او په کوزه پښتونخوا (خیبر پښتونخوا) کښې ورته ټپه یا مصرعه وئیلے شي. دغه رنګ د وردګو، ننګرهار او د کابل خواؤشا پښتانۀ ورته ټکۍ یا ټیکۍ هم وائي.

"ټپه هغه څیز (صنف) دے چې یوه مصرعه ئې وړه او بله اوږده وي. لنډه

مصرعه ئې نهه او اوږده مصرعه ئې دیارلس سیلابه وي.

| ١ | ٢ | ٣ | ۴ | ۵ | ٦ | ٧ | ٨ | ٩ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| چې | لې | و | نے | شوې | حال | دې | او | وې |

| ١ | ٢ | ٣ | ۴ | ۵ | ٦ | ٧ | ٨ | ٩ | ١٠ | ١١ | ١٢ | ١٣ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| رو | غو | به | که | له | چا | ته | وې | د | زړۀ | حا | لو | نه "[2] |

"خو د وړومبۍ حصې نیمګړتیا په "یه که زار" یا داسې قسم نورو غړونو پوره کېږي".[3]

"د دواړو مصرعو دپاره ضروري نۀ ده چې هم قافیه وي. البته دوېمه مصرعه به په ه ختمېږي".[4]

"ځنې خلق د ټپې دوېمه مصرعه په "ه" نۀ ختموي. یعنې د "ه" اضافي توري ورسره نۀ یو ځائے کوي. او دغه رنګ دا دوېمه مصرعه د دیارلس سیلابو په ځائے دولس سیلابه شي. لکه:

دیـــــدن د ګلـــــو غنچـــــه نـــــۀ ده
چې د ربېار په لاس ئې یار ته اولېږم"[5]

د ټپې د پائې "ه" د اواز د اوږدوالي دپاره راځي خو یاده دې وي چې په ځنې حالتونو کښې د ټپې د پائې "ه" کۀ د جملې نه لرې کړے شي نو د کلمې په معنی کښې فرق او تغیر راځي لکه:

اول یـــــاري دې پـــــه زاري وه
اوس رالېږي په غم لړلي ځوابونه

یا

د ملاکنـــــډ بـــــازاره وران شـــــې
تا کښې خرڅېږي د رامداد د کور شالونه

په دغه ټپو کښې ځوابونه او شالونه د جمعې په حالت کښې راغلي دي او بغېر د "ه" نه د جملې معنی کښې تغیر راځي. دغه رنګ د "ندا" په صورت کښې هم د پائې "ه" په لرې کولو سره معنی بدلېږي لکه:

پــــه هندوســــتان دې ځلــــے جــــوړ شــــه
د بــــې ننګــــۍ اواز دې رامــــۀ شــــه مئينــــه!

"د ټولو ټپو بحر او وزن يو وي. البته داسې ټپې هم شته دے چې اوله مصرعه ئې دويمې مصرعې سره تر پنځو سېلابونو پورې هم قافيه وي. لکه داسې:

زمــــــا د عمــــــــر ســــــــره ســــــمه
ميــرات شــې غمــه پــه خنــدا دې تېرومــه"[6]

"لنډۍ د آهنګ يا غږ د هر ډول وزن تابع وي. په هر ډول چې ئې اړوې، اړول کېږي. غالباً چې د پښتونخوا پـه هـر ګـُـټ او هـر ځائے او هره قبيله کښې بېل بېل آهنګ او وزن لري".[7]

اوس راځو د متل طرف ته. متـل د اولسـي ادب يـو داسـې پـه زړۀ پـورې صـنف دے چې د اولسي ژوند د هر اړخ احاطه کوي. د متـل نـه د يـو قـام يـا ټـولنې د احساساتو، تجرباتو، تهذيب و تمدن، ثقافت او د ذهن و فکر اندازه کېږي. دا د ازمائېلو تجرباتو او مشاهداتو يوه کوټلې خزانه او د اختصار، جامعيت او سادګۍ يو ښکلې نمونه وي. دا د مشرانو د خُلې نه وتې هغـه قيمتـي ملغلـرې دي چې په هر دور کښې ورته په درنه سترګه کتلے شوې دي. او هـر خـاص و عـام ته بغېر د څۀ شک شبې نه منظورې شوې دي او په سر سترګو ئې مني.

"متـل هغـه مختصرې، مؤثرې، مشـهورې، جـامع، سـاده او بـې تکلفـه وينـا يـا فقـرې تـه وئېلے شـي چـې مـوزون الفـاظ لـري، ترتيـب ئـې مناسـب وي، چـې مفهـوم ئـې واضـحه او معنـی ئـې اوچته وي".[8]

"متل د خبرو يوه بېخي لنډه جمله ده، چې د معنې پـه لحـاظ بشپړه او د مفهوم او مواد په لحاظ عامه وي. د متل بلاغت او فصاحت په دې کښې دے چې د فورم لۀ مخې لنډ او مـوجز، د مانا په لحاظ مستعار او کنايه، د مفهوم لۀ مخې ساده او عـام فهم او د افادې په لحاظ په هدف رسا اوسم لګېږي".[9]

"د متل د لفظونو په تعداد او ترتیب کښې د ترمیم او رد و بدل ضرورت نۀ وي. دا د معنې په لحاظ مکمل وي او هیڅ لفظي یا عبارتي نیمګړتیا نۀ لري. دغسې د واحد جمع او تذکیر و تانیث د فرق نه هم مبرا وي". [10]

د متل استعمال په بحث و مباحثه او تقریر و تحریر کښې خوږوالے او قوت پیدا کوي. د یو بل پوهولو او خبره د هغۀ په ذهن کښې کښېنولو دپاره د متل نه بله اسانه او ساده لار نشته. هم دغه وجه ده چې شاعران او ادیبان ئې په خپلو وېناګانو او لیکونو کښې استعمالوي او خپلې فنپارې پرې د فن اعلیٰ او ښکلې نمونې ګرځوي.

د پښتو اولسي ادب هردلعزیز صنف ټپه هم د دغه اثر نه خالي نۀ ده. او یو شمېر داسې ټپې شته چې پکښې د متل مناسب او برمحل استعمال شوے دے. او د ټپې خوند رنګ ئې زیات کړے دے.

ضروري ګڼم چې د بېلګې په توګه څو داسې ټپې وړاندې کړم چې د متل استعمال پکښې یا خو کټ مټ شوے وي او یا ئې پکښې مفهوم بیان شوے وي.

متل: د شال او شړۍ نۀ کېږي

شال د شړۍ برابر نۀ دے
جانان زما مساوي نۀ دے مړ دې شینه

متل: سړے په خوي سړے دے.

سړے په رنګ نۀ سړے کېږي
سړے هغه دے چې ئې خوي د سړو وینه

متل: په هر چا خپل وطن کشمیر دے.

په هر چا خپل وطن کشمیر دے
په ما کشمیر شول نالیدلي وطنونه

متل: د کونډې زویه څۀ خو بویه.

د کونډې زویه څۀ خو بویه

پـه تـا مئـین یم پـه مـا ولـې کـړې ظلمونـه

متل: عمر د ژمي مازیگر دے.

عـالمـــــه یــــو تـــــر بـــــل ځـــــار ېږئ

عمـر د ژمـي مـازیگر دے تیـر بـه شـینه

متل: دنیا فاني ده.

عـالمـــــه یــــو تـــــر بـــــل ځـــــار ېږئ

دنیــا فــاني ده مېلمانــهٔ راغلــي یــو نــه

متل: مینه په زور نهٔ کېږي.

میـنـــــــه د زور خبـــــــره نــــــــهٔ ده

کـهٔ زړهٔ دې نـهٔ وي بیــا دې نـهٔ مجبورومـه

متل: عاشق سرے کله پټېږي.

چــې اوږه نــهٔ خــوري بــوئي تــرې نــهٔ ځــي

چې مینه نهٔ کړي څوک پرې نهٔ وائي تهمتونه

متل: په تدبیر لهٔ مرګه خلاصے نشته.

پـــــه تـــــدبیرونو کلـــــه کیــــږي

څهٔ چې تقدیر کښې د چا وي هغـه بـه شینه

متل: فقیره دوه دې سوده. یو دې خیر بل دې دیدن.

ملنګـــــا دوه ګټـــــې دې وکــــــړې

یو دې خیر تول کړو بـل دې وکړل دیدنونه

متل: مینه په تلهٔ راتلهٔ زیاتېږي.

مینــه پــه تلــو راتلــو زیــاتېږي

کله راځه کله بـه زهٔ درځـم مئینـه

متل: چې څوک اودهٔ وي د هغهٔ نر کټے زیږي.

چــې خــوب کــوې خــاورې بــه یوســې

شاه د هغو چې شوګیرې ورته کوینه

متل: خبره لاړه ډنډوره شوه.

خبره لاړه ډنډوره شوه
جانانه خپل غم دې کوه خپل به کومه

متل: د یو زړۀ نه بل ته لار وي یا د زړۀ نه زړۀ ته لار وي.

د یو زړګي نه بل ته لار وي
چې زما خوښ ئې ستا به ولې بدي شمه

متل: سېلاب ته د شګو بندونه نۀ ټینګېږي.

ستا یارانه د شګو بند دے
ځوک چې د شګو بند تړي اوبه ئې وړینه

متل: پېغلتوب نیمه باچاهي ده.

پېغلتوب نیمه باچاهي ده
ورک ناوېتوب شه چې دوه نیمې ورځې وینه

متل: اور چې بلېږي، لوګے به خېژي.

اور چې بلېږي لوګے خېژي
داسې لوګے لمبې زما په زړۀ کښې وینه

متل: بې زحمته راحت نشته.

تل په زخمت پسې راحت وي
چې زخمتونه تېر وي راحت به وړینه

متل: تېر وخت په بیرته نۀ راځي.

په لاس به تېر ساعت رانشي
کۀ زۀ په اوښکو کړم اوبۀ واړه ملکونه

متل: پښتانۀ واړه یو ټبر دي.

پښتانۀ واړه یو ټبر دي

د جنگ په ورځ کښې په سيالۍ سر ورکوينه

متل: چې تا راکړي ما خوړلي.

چې تا راکړي ما خوړلي
د ياراني په کار کښې نۀ وي حسابونه

متل: چې سر ساتې خاورې به وکړې ديدنونه.

ديدن د سر په بدله دے
چې سر ساتې خاورې به وکړې ديدنونه

متل: موزيگي نه کونډه ښۀ يم.

د موزيگي نه کونډه ښۀ يم
توره څرخه به گرځوم ځان به ساتمه

يو شمېر داسې ټپې هم شته چې په هر ځائے کښې د متلونو په څېر راوړلے کېږي. د مثال په توگه:

طالبه خاورې به ملا شې
په کتاب پروت ئې يادوې شينکي خالونه

څانگه به نن سبا کښې گل شي
ما ئې په سر کښې سرې غوټۍ ليدلي دينه

د خدائے په لوئے کرم به کېږي
په عقل گرانه ده زما د جانان مينه

ستا د ښائست گلونه ډېر دي
جولۍ مې تنگه زۀ به کوم کوم ټولومه

## حوالې او اخذ لیکونه


[1] شاهين، سلمٰی، روهي سندرې (ټپې)، پښتو اکېډېمي پېښور يونيورسټي، ملت پرنټرز لاهور، ۱۹۹۸ء، مخ ۲۱

[2] يوسفزے، مشتاق مجروح، زرکاڼے، تاج کتب خانه پېښور، تاج پرنټنګ پرېس پېښور، جون ۱۹۹۸ء، مخونه ۱۵۸، ۱۵۹

[3] طائر، محمد نواز، ټپه او ژوند، پښتو اکېډېمي پېښور پوهنتون، غني سنز پرنټرز محله جنګي پېښور ښار، ۱۹۸۰ء، مخ ۱۵

[4] داؤد، داور خان، پښتو ټپه، مخ ۳۸

[5] هم دغه اثر، مخ ۴۰

[6] يوسفزے، مشتاق مجروح، زرکاڼے، مخ ۱۵۹

[7] ژواک، محمد دين، پښتنې سندرې، (لومړی برخه) د پښتو ټولنې د ادبياتو د څانګې له خوا، ۱۳۳۴، مخ "د"

[8] داؤد، داور خان، پښتو ادب کښې متل، يونيوسټي بک ايجنسي پېښور، نيو ال عوامي پرنټرز بالمقابل سمال انډسټري کوهاټ روډ پېښور، جنوري ۱۹۹۰ء، مخ ۲۰

[9] شنواري، دوست محمد، د پښتو د اولسي ادب لارې، دانش خپرندويه ټولنه پېښور، دوېم چاپ، ۲۰۰۲ء، مخ ۵۲

[10] داؤد، داور خان، پښتو ادب کښې متل، مخ ۲۱